AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۵/۱۳

# د ویرې سیاست Politics of Fear

ویره کله له ریښتوني اوکله له خیالي دښمن څخه وحشت کول، تېښته او پټېدل دي. دښمن که ریښتونی او که خیالي وي تر هغه وخته پورې چې موجود وي له ویرېدونکي او تښتېدونکي انسان څخه لاس نه اخلي. د وېرې او تېښتې یو تاوان دا دی چې ورځ په ورځ زیاتیږي او په مقابل کې دښمن یا د ویرې عامل په هغه اندازه قوي کیږي او په هغه اندازه د ډارېدونکي له ډار څخه خوند اخلي اوورځ تر بلې یې تېرې زیاتیږي. ویره د نرې رنځ په څېر ده. که د نرې رنځ علاج او تداوي ونه سي له سرې سره تر مرګه پورې پاتیږي. نو د ویرې له احساس او دایمي رنځ څخه د ځان او دوستانو د ژغورلو یوازینی لار د ویرې له عامل سره مقاومت دی. انسان باید په ځان کې دا احساس وروزي چې که دی له غوښو او هډوکو څخه جوړ دی نو دښمن یې هم له پولادو څخه جوړ نه دی. که دی خوږیږي نو دښمن یې هم خوږېدلای سي. دغه احساس دی چې انسان د تل لپاره د ویرې له رنځ څخه ژغوري.

د ویرې سیاست له دیکتاتوري رژیمونو سره تړلی وي. دیکتاتوران، چې د خپلو اعمالو او اقداماتو لپاره، قوي او موجه دلایل نه لري او خلکو ته د خپلې لارې د انتخاب په برخه کې قناعت نه سي ورکولای نو له زور څخه کار اخلي. د دې لپاره چې څوک یې د زور او سرزورۍ په مقابل کې مقاومت ونه کړي اود دوی قدرت ته خطر پېښ نه کړي نو د خلکو د وېرولو د سیاست اعمالو ته لاس اچوي او دې عمل ته د وېرې سیاست ویل کیږي.

دیکتاتوران، پر خپلو کارونو اوپلانونو باندې هر ډول انتقاد او اعتراض ته په قهر او ځپلو جواب ورکوي. خلک بندیانوي، ډبوي او حتی وژني یې. طبیعي خبره ده چې خلک د هغوی په مقابل کې جرأت له لاسه ورکوي او له هر یوه سره د خپل سر د ساتنې غم وي.

ځیني دیکتاتوران لکه هټلر، موسولیني، ستالین، ماوزی تونګ او . . . خاصې مفکورې او ایډیالوژی لري او غواړي چې د ټولني ټول خلک د دوی په څېر فکر وکړي اوچې څوک د دوی په څېر فکر نه کوي او یا د دوی پر فکر اولاره باندې انتقاد اواعتراض کوي هغوی خپل دښمنان بولي او له منځه یې وړي. خلک د دوی د شکنجو او زندانونو له ویرې هیڅ نه وایی او په ټولنه کې یې سیاسي وېره خپره کړې وي.

ځیني دیکتاتوران کوم خاص سیاسي فکر اولاره نه لری او یوازې د خپل مطلقه قدرت دښمنان له منځه وړي. د افغانستان په تاریخ کې یې ښه مثالونه امیر عبدالرحمن خان او صدراعظم محمدهاشم خان دی. په دواړو صورتونو کې د سر او مال خطر یوازې هغو کسانو ته متوجه وو چې د دیکتاتور له نظریاتو سره یې مخالفت کاوه او د دیکتاتور مطلقه قدرت ته یې خطر پیښاوه او یا دیکتاتور داسې فکر کاوه چې د هغه قدرت ته له دغه یا هغه شخص د وجود له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

امله خطر پیښېدلای سي. نور نو دیکتاتورانو له هغو کسانو سره هیڅ غرض نه درلود چي  د دوی قدرت ته یې خطر نه پیښاوه.

تر دې دواړو ډولونو خطرناکه، چي د ټولني د عمومي خفه کولو او د هر ډول علمي پرمختګ د مخنیوي سبب کیږي، هغه مذهبي دیکتاتوري ده. مذهبي دیکتاتوري د علم، پوهي، عقل اومنطق سره د دښمنی نظام دی. مذهبي دیکتاتوري ځکه ډېره خطرناکه ده چي دیکتاتوران خپل ناروا عمل د خلکو د خپل مذهب تر نامه لاندي کوي. یعني په حقیقت کي مذهب د سیاست رهبري پر غاړه اخلي. په دې صورت کي که خلک د دیکتاتور پر ضد هر عمل کوي هغه د هغوی د خپل مذهب ضد عمل ګڼل کیږي. په دې ډول دیکتاتوري کي نه یوازي د قدرت مخالفینو ته د هرډول تهدید او سزا خطر متوجه وي بلکه د ټولني د افرادو فکر، لباس، عمل او هر څه د دیکتاتوري سسټم تر څار لاندي وي. د مُلایانو یوه خاصه طایفه د حکومت، پولیسو او قضاییه قوې ټول قدرت په لاس کي لري. دا دیکتاتوري ځکه ډېره خطرناکه ده چي عاملین یې هر عمل د خدای د اوامرو تر عنوان لاندي عملي کوي او اعتراض کوونکي ته ګناهکار او حتی کافر ویل کیږي.

همدغه طایفه ده چي اوس اوس په افغانستان کي قدرت لري. د دې طایفي مشر څو ورځي مخکي اعلان وکړ چي د ده د امر اطاعت د خدای او رسول د اوامرو اطاعت دی. کله چي د حکومت مشر خپل اوامر د خدای حکم وبولي بیا به نو سړی له هغه سره څرنګه استدلال کوي؟ معلومه خبره ده چي هر ډول اعتراض کوونکی د خدای له فرمان څخه سر غړوونکی او حتی کافر بلل کیږي. په اسلام کي د کافرکېدلو یا کُفر سزا مرګ دی.

څو ورځي مخکي مي په فېسبوک کي یو طالبګی ولیدی چي عمر به یې ایله پنځه لسو کالو ته رسېدی او یوه لویه توره بګړی یې تر سر تاو کړی وه. خلکو ته یې د یوه نامعلوم مُلا له قوله ویل: هرڅوک چي د اسلامي امارت په مقابل کي د جمهوری نظام غوښتنه کوي هغه کافر دی.

اوس به نو څوک دا جرأت وکړي چي وایی زه جمهوري یا ډیموکراسي نظام غواړم. د دې نظام د خاصو پولیسو یوه شبکه چي امربالمعروف یې بولي بې حده قدرت لري. خلک پر خپل سر وهلای، بندي کولای، شکنجه کولای او تري تم کولای سي. دغه قوه ده چي په زړونو کي یې ډار اچولی دی.

ډار داسي یو احساس دی چي په زړونو، مغزونو اورګونو کي ځای نیسي او بدي یې په دې کي ده چي هم ورځ په ورځ زیاتیږي او پرله پسي په زړونو کي ذخیره کیږي او هم له یوه تن څخه بل ته او له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقالیږي. دا وېره ختم نه لري او له سړي سره تر مرګه پوري ملګرې وي.

په مقابل کي د مذهبي دیکتاتورانو نظام د اصلاح قابلیت نه لري. هغه نظام یا رژیم ورځ تر بلي سختیږي. ورځ تر بلي د خلکو د ژوند او فکر د آزادی دایرې ورته تنګوي. هر څومره چي د دوی قدرت زیاتیږي. په هغه اندازه یې تهدیدونه او سزاوي زیاتیږي او په هماغه پیمانه د خلکو ډار هم ورسره زیاتیږي. هر څومره چي په ټولنه کي وېره او ډار عامیږي په هغه اندازه دیکتاتوري نظام ټینګیږي. که یې نن  د پنځو تنو په مقاومت چاره کیږي سبا یې په سلو او حتی زرو تنو هم مخه نه سي نیوله کېدلای.

د دیکتاتورانو د قدرت د ماتولو او د خلکو له زړونو څخه د ډار د لیري کولو یوازینی لار د هغوی لومړۍ او دوهمي ضربې ته ځان ټینګول دي. په هغه اندازه چي خلک د دیکتاتورانو له وهلو او زور څخه وېره لری په هغه اندازه دیکتاتوران هم د خلکو له چیغو او مقاومت څخه ډاریږي. ځکه خو وایی چي د خلکو زور د خدای زور دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د طالبانو وحشيانه، تاريک او بې منطقه رژيم له خلکو څخه هر څه اخيستي دي. هر څومره چي هغوی ته صبر وسي هغوی نور هم غښتلي کيږي. د هغوی په مقابل کي بايد ښوونځي او پوهنتونونه وتړل سي او نجوني او هلکان بايد په چيغو چيغو د خپلو حقوقو غوښتنه وکړي. د طالبانو لومړۍ ضربې اودوهمي ضربې ته بايد ځانونه ټينګ کړی او بيا نو د هغوی پلار نه سي کولای چي تر قيامته پوري خپل تاريک نظام د توري په زور وچلوي. دا خو له طالبانو څخه د خلکو عمومي وېره ده چي د طالبانو د عالي تحصيلاتو وزير ملانديم په زغرده وايي زموږ چي هر ډول زړه وغواړي هغسي حکومت کوو.

د طالبانو څخه ډار خوب او خيال نه بلکه يو واقعيت دی. خو که له دې ډار سره سوله ايز مقاومت ونه کړی. هغوی به تر قيامته پوري په عام بازار کي ښځي وهي او موږ به ورته ګورو. د نجونو پر مخ به ښونځي تر قياميته پوری تړلي وي او په مقابل کي به ځوانان په ټيټو سترګو ښونځيو ته روان وي. او په ښونځيو کي به هم يوازي هغه درسونه وايی او هغو کتابونو ته به لاسرسی لري چي طالب او ملا ورته انتخاب کړي وي. نجوني زموږ د ټولني يوه اساسي او نيمايی برخه ده. د عصري تعليم او تحصيل هغه حق چي نارينه لري هغه حق ښځي هم لري. که اوس ويښ نه سی او که په يوه چيغه لارو کوڅو ته راونه وزی بيا به يو وخت ډېر ناوخته وي.



[په افغان جرمن آنلاين پورتال کی د جهانی صاحب آرشيف](#)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ